پوهنمل مطیع الله روهیال ۲۰۲۱/۱۱/۱۴

# ترقیمه لیکنه

# او

# پښتو مخطوطات

**یادونه:**

**د ترقیمه لیکنې په باب ما ځینې یاداښتونه له پخوا څخه اخیستي ول او نیت مي وو چي په دې اړه د کومې مقالې سربښته وکړم، زما دغه نیت هغه مهال نور هم قوي سو چي په دې اړه د دکتور عارف نوشاهي پر هغه مقاله پېښ سوم چي عنوان ئې (ترقیمه نویسی نسخه های خطی) وو. خپل یاداښتونه او د ښاغلي نوشاهي مهمې یادونې مي سره یو ځای کړې او د حاضرې مقالې بدنه ځني جوړه سوه.** (م. روهیال)

د ادبیاتو په پراخه ساحه کي متنپوهنه خپل ځای لري. متنپوهنه د ادبپوهنې د فرعي څانګې په توګه هغه پوهه ده چي ټول سروکار ئې له متن، خطي نسخې او د متونو له څېړلو، ترتیبولو او چاپ ته آماده کولو سره دئ. نو ویلای سو چي د نسخه پېژندنې اصطلاحات په لوی سر کي د متنپوهنې ترمینالوژي جوړوي. د دغې ترمینالوژۍ یا اصطلاحاتو یوه نومَونه (اصطلاح) ترقیمه ده. په دې مقاله کي د ترقیمې په اړه پر لاندي موضوعاتو په لنډ ډول بحث کوو:

ترقیمه څه شي ته وایي؟

څو ډولونه لري؟

مهم اجزاء ئې څه دي؟

د دغو سوالونو پر جوابولو سربېره په دې لیکنه کي د ترقیمې موندلو منابع، د ترقیمه لیکنې ګټې او داسې نور ضمني موضوعات تر څېړنه لاندي نیسو، هیله ده د خطي آثارو د علاقمندانو او متنپوهنې د ساحې د څېړونکو په درد وخوري.

ترقیمه عربي کلمه ده، چي د (ترقیم) له مصدر څخه رامنځته سوې ده. په فرهنګونو کي د (ترقیم) کلمې ته د لیکلو، نوشته کولو او استنساخ مفاهیم لیکلي دي. د پارسي ژبې مشهور قاموس لیکوال حسن عمید په خپل فرهنګ کي د دغو معناوو تر څنګ یوه بله معنی په دې ډول پر اضافه کړېده: «نقطه گذاری کلمات برای آسان تر خوانده شدن.» (فرهنګ فارسی عمید، آنلاین قاموس) خو د نسخه پېژندنې او نسخه لیکونکو په اصطلاح ترقیمه د څو کلمو داسې مجموعه ده چي د یوې خطي نسخې په آخر کي په لنډ ډول د یوه کتاب پای، نوم، د لیکوال/ شاعر نوم، د کاتب نوم او ځای، د کتاب د لیکلو نېټه او داسې نور مهم موضوعات په لنډ ډول راپېژني.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

افغان متنپوه نجیب مایل هروي د ترقیمي په باب لیکي: «ترقیمه په لغت کي نوشته کولو، د لیک ښایسته کولو او ټکي (نقطو) ورکولو ته ویل کیږي او د نسخه لیکوالو او کاتبانو په اصطلاح د یوي نسخي له وروستي عبارت څخه مراد ده چي یو کاتب تر ټنا و صفت وروسته د متن د وخت، ځای او خپل نامه یادونه پکښي کوي.» (مایل هروي، ۱۳۶۹، ۲۸۶)

اوس مهال د پارسي متونو ترتیبوونکي او نسخه پیژندونکي د ترقیمي پر ځای (انجامه) کلمه کاروي. خو ترقیمه هم د مناسبت او هم د شهرت له مخي ځنې مخکي ده. ترقیمه عربي کلمه ده خو د ډېرو نورو مفاهیمو غوندي د پارسي، پښتو او اردو نسخه پیژندونکو او نسخه لیکونکو له خوا استفاده کیږي او په هماغه مفهوم کاریږي کوم چي په عربي خطي آثارو کي مستعمل ده. پاکستانی متنپوه دکتور عارف نوشاهي یو ځای لیکي: «څه موده وړاندي د هند د پټني د خدابخش کتابتون له خوا د ترقیمو، مهرونو او ... په باب یوه غونډه وسوه. په دې غونډه کي هندي نسخه پیژندونکو د مختلفو اصطلاحاتو په باب خپل نظرونه شریک کړل. د کتاب د وروستی لیکني په باب ځیني نور اصطلاحات لکه: (تام، تتمه، تمت، خاتمه، ختام، ختام الکتاب او ختام الکتابه) مطرح سول، په پای کي پر (ترقیمه) د نظر اتفاق وسو.» (نوشاهي، ۱۳۸۷، ۸۱)

## د ترقیمي ډولونه:

د خطي نسخو په آخر کي دري ډوله ترقیمي موجودي دي:

### یکړه ترقیمه:

په دغه ډول ترقیمه کي په لنډ ډول لیکل سوي وي: «تم»، «تمت»، «کتبه فلان» یا داسي نور لنډ کلمات. د دغو کلماتو په لیدلو سره څوک پوهېدلای سي چي یاد متن یا کتاب پر همدغه ځای پای ته رسېدلی دئ. په دغه ډول ترقیمه کي د کتاب یا خطي نسخي د متن په باب نور اړین معلومات نه وي ورکول سوي.

### مشرحه ترقیمه:

په مشرحه ترقیمه کي د یکړي ترقیمي پر عباراتو سربېره د یوي خطي نسخي په باب نسبتاً هراړخیز معلومات وړاندي سوي وي. د کتاب د نامه تر څنګ د هغه د کاتب نوم هم لیکل سوی وي. د کتابت د ځای تر څنګ ئي د نسخي د استنساخ نېټه هم درج کړې وي. د مشرحي ترقیمي ټول معلومات د نسخه پیژندونکو سره د یوه متن په پیژندنه کي ډېره مرسته کوي.

### غبرګه ترقیمه:

ځیني وخت یوه خطي نسخه د هغي د لیکوال، مؤلف یا شاعر له خوا یا هم کوم بل کاتب له خوا استنساخ سوي وي، په آخر کي ئي ترقیمه ورته لیکلي وي. کله چي کوم بل کاتب له دغي نسخي څخه بله نسخه نقلوي، د لومړی نسخي تر ترقیمي وروسته خپله ترقیمه وراضافه کوي او په دې توګه یوه خطي نسخه غبرګي ترقیمي ولري. په پښتو خطي آثارو کي دغه ډول ترقیمي سته، تر ټولو مشهوره ئي د پټي خزانې د موجودي خطي نسخي ترقیمه ده. (۱)

## د ترقیمي اجزاء:

دکتور عارف نوشاهي د ترقیمي په باب لیکي: «یوه نسبتاً ښه ترقیمه هغه ده چي د کاتب نوم، د کتابت نېټه او ځای پکښي لیکل سوي وي.» (نوشاهي، ۱۳۸۷، ۸۱)

---

(۱) د ترقیمو د ډولونو په باب دکتور عارف نوشاهي د علیګړهـ پوهنتون د استاد دکتور انصارالله په حواله د (ترقیمه مفرد، ترقیمه مرکب او ترقیمه دوګانه) اصطلاحات لیکلي دي. خو ما د دغو اصطلاحاتو مفاهیمو ته په کتلو سره د (یکړه ترقیمه، مشرحه ترقیمه او غبرګه ترقیمه) نوموني ولیکلي (م. روهیال).


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزی بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

پر پورتنیو معلوماتو سربېره بنه او اصولي ترقیمه ځیني نوري برخي هم لري چي دلته هره برخه په جلا جلا توګه توضیح کوو:

### ۱. د متن د پای اعلان:

د یوې نسخي کاتب باید د خپل متن په آخر کي داسي کلمي یا د کلماتو مجموعه راوړي چي له هغې/ هغو څخه دا معلومه سي چي حاضر متن پای ته ورسېد. په دغسي کلماتو کي عربي (تم) یا (تمت) کلمي راځي، کله کله د عربي کلمي تر څنګ پارسي عبارات هم راغلي وي. له دغه اعلان څخه د یوې خطي نسخي لوستونکی پوهېدلای سي چي متن پر دغه ځای پای ته رسېدلی دئ.

### ۲. د اثر او مؤلف/ لیکوال/ شاعر نوم:

د متن د پای تر تعین وروسته د اثر او د هغه د مؤلف/ لیکوال/ شاعر نوم لیکل کیږي. د نسخي کاتب کله کله د مؤلف، لیکوال او شاعر له نامه سره ځیني توصیفي عبارات هم راوړي، خو کله کله فقط د هغوی د نامه په یادولو سره بسنه کوي.

### ۳. د کاتب نوم:

د ترقیمي په اجزاوو کي دریم جزء د کاتب نوم لیکل دي. ډېر کله کاتب د خپل نامه په لیکلو سره د شکسته نفسی اظهار کوي او ځانته دعا کوي. مثلاً (این فقیر پرتقصیر، حقیر فقیر، احقر الناس او داسي نور عبارات) خو ځیني کاتبان اضافه معلومات هم د خپل نامه سره لیکي. مثلاً د پلار او نیکه نوم لیکي، خپله قبیله، کسب، ځای ځایګی او که د کومي تصوفي طریقي پیرو وي د خپل پیر او طریقي یادونه هم کوي. دغه ډول معلومات د نسخه پېژندونکو سره د خطي اثر د پېژندني په باب ډېره مرسته کوي.

### ۴. د کتابت نېټه:

د ترقیمي تر ټولو مهم جزء د یوه اثر د کتابت نېټه ثبتول دي. که چیري کوم کاتب خپل نوم لیکلی نه وي، مګر د کتابت نېټه ئې لیکلي وي دغه نېټه زموږ سره د خطي اثر په ښه ترا پېژندلو کي مرسته کوي. د یوې خطي نسخي د کتابت په نېټه لیکلو کي څو موارد ډېر مهم دي، په دې ډول: ۱/ وخت، ۲/ ورځ، ۳/ میاشت، ۴/ کال (د مروج تقویم پر اساس)، ۵/ د وخت د واکمن د جلوس کال، ۶/ تاریخي ماده یا قطعه.

په ترقیمو کي اکثر وخت نېټه په حروفو لیکل سوې وي کله کله په اعدادو، خو داسي ترقیمي هم لیدل سوي دي چي له دواړو (حروفو او اعدادو) څخه استفاده پکښي سوې وي. په ترقیمه کي د نېټه لیکلو په باب د دکتور عارف نوشاهي ځیني توضیحات رانقلول بې ګټي نه دي، هغه یو ځای لیکي: «... کومي نېټي چي په عدد سره لیکل سوي وي د فهرست لیکوالو او مطالعه کوونکو له پاره دوه ډوله سرګرداني پېښوي، یو: د صفر نه لیکل، دوهم: په سرچپه ډول د عددونو لیکل. مثلاً که کاتب د نسخي لیکلو نېټه ۱۸۲ لیکلې وي، د خطي نسخو فهرست کوونکی نورو قرائنو ته په کتو یاده نېټه ۱۰۸۲ ثبتوي ...» (نوشاهي، ۱۳۸۷، ۸۲) «... د دهلي پوهنتون استاد دکتور شریف حسین قاسمي په سالار جنګ موزیم کي د اخبارالاخیار یوه خطي نسخه لیدلې چي د کتابت نېټه ئې ۸۰۱۰ لیکل سوې ده. دا چي د یاد اثر مؤلف شیخ عبدالحق محدث دهلوي په ۱۰۵۲هـ کي وفات سوی، نوموړي محقق ته سرګرداني پېښه سوې وه چي دا نېټه څه ډول ولولي؟ لومړی ئې ۱۰۸ وبلله خو نتیجه ئې ور نه کړه، وروسته ئې ۸۱۰ وبلله او داسي نتیجه ئې ځني واخیسته چي دا نېټه ممکن د مؤلف عصر ته نژدې وي، خو بیا ئې هم مرسته وغوښته. معلومه خبره ده چي دا نېټه باید ۱۰۸۰ وویل سي، دغه ډول لوستل ئې هر ډول ستونزه هواروي...» (نوشاهي، ۱۳۸۷، ۸۲)

### ۵. د کتابت ځای:

اکثر کاتبان د ترقیمو په لیکلو کي خپله پته هم لیکي. د کتابت ځای کله یو محل، کلی یا یو ښار وي، خو کله کله کاتب خپله دقیقه پته لیکي، مثلاً په پلانکی کوڅه، سیمه او محل کي مي دا کتاب وکیښ. که کاتب د یوې نسخي د کتابت پر مهال له اصلي وطن څخه کوم بل ځای کوچ کړی وي اصلي او فرعي دواړه ځایونه ښیي. د کتابت د ځای ضبط په ترقیمه کي ځکه ډېر مهم دئ چي زموږ سره د جغرافیایي موقعیتونو په پېژندنه کي مرسته کوي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

### ۶. د نسخې ملکیت:

د ترقیمې په اجزاوو کې یو جزء دا دئ چې کاتب د نسخې ملکیت وښیي. مثلاً کله کله داسې پېښیږي چې یو کاتب د بل چا په فرمایش کومه نسخه استنساخ کړي. دغه ډول فرمایش کله کله د دوستۍ پر اساس وي، خو داسې هم کیږي چې د مزدورۍ او مزد له پاره کومه نسخه کتابت کړي. په دواړو حالاتو کې ترقیمه کښونکی د یادې نسخې ملکیت د فرمایش ورکوونکي یا د نسخې د مالک ملکیت ثبتوي. دغه ډول ملکیت ثبتول ځو ګټې لري، یو: د نسخې اصلي مالک موږ ته راښیي، دوه: په سیمه کې د خطي آثارو د ټولوونکو او جمع کوونکو په فرهنګي فعالیت او علاقه مو خبروي. دري: د خطي ذخیرو او کتابتونونو په باب معلومات راکوي.

### ۷. د منقول عنه نسخې معلومات وړاندې کول:

د پښتو په فرهنګي حوزو کې ځینې پښتو نسخې له نورو نسخو څخه نقل سوي او استنساخ سوي وي، دوهم نقلوونکی د لومړۍ نسخې ترقیمه لومړی راوړي، تر هغه وروسته خپلې کتابت سوي نسخې ته نوې ترقیمه اضافه کوي. د منقول عنه نسخې دغه ډول ترقیمه نقلول د دوهمې نسخې اعتبار لا زیاتوي. زموږ په لاس کې چې د پټې خزانې کومه نسخه موجوده ده، د دغې نسخې په آخر کې درې ترقیمې رانقل سوي دي، لومړۍ ترقیمه د محمد هوتک په قلم په دې ډول لیکل سوې ده: «تمت الکتاب بعون الملک الوهاب، اللهم اغفر وارحم لکاتبه و قاریه، و من له حق علینا والصلوة والسلام علی رسوله محمد، و علی آله و اصحابه اجمعین.

کتاب تمام سو، په ورځ د جمعې (۲۴) د شوال المکرم سنه (۱۱۴۲) هجري په قندهار کې او مؤلف محمد هوتک هم فارغ البال سو الحمدالله حمداً کثیراً.» (هوتک، ۱۳۳۹، ۲۰۲)

کله چې له دې نسخې څخه بل کاتب دوهمه نسخه استنساخ کړه، د مؤلف تر ترقیمې وروسته ئې خپله ترقیمه داسې ولیکله: «بتاریخ دهم ماه ربیع الاول سنه یکهزار و دو صد و شصت و پنج هجری گذشته بود از هجرت رسول خدا صلی الله علیه وسلم بدستخط حقیر فقیر کثیرالتقصیر نورمحمد خروتی برای عالیجاه رفعت جایگاه سردار عالی تبار سردار مهردل خان قلمی گردید.

هر که خواند دعا طمع دارم
زانکه من بنده گنه کارم»

د نورمحمد خروټي له قلمي نسخې څخه عباس کاسي په ۱۳۰۳ق کال دریمه نسخه نقل کړه، زموږ سره د پټې خزانې همدغه نسخه موجوده ده، یادې نسخې ته ئې خپله ترقیمه په دې ډول وراضافه کړه: «این کتاب را احقر الناس محمدعباس قوم کاسی در شهر کویته بلوچستان خاص از برای عالیجاه تجارت نشان حاجی محمداکبر قوم هوتکی قلمی کرد، سنه ۱۳۰۳ هجری باستعجال تمام قلمی شد.»

د یوې قلمي نسخې دغه ډول څو ترقیمې نه یوازې دا چې د یادې نسخې اعتبار زیاتوي، بلکې د کاتب امانتداري او دقت هم موږ ته راښیي، د دې تر څنګ د فرمایش ورکوونکو او کاتبانو په معرفي کولو کې لویه همکاري راسره کوي.

### ۸. د منقول عنه نسخې کیفیت معلومول:

ځینې وارد او تکړه کاتبان د ترقیمې کښلو پر مهال د منقول عنه نسخې کیفیت هم لیکي، مثلاً: یاده نسخه مې له پلانکی نسخې څخه چې پلانکی کاتب لیکلې وه رانقل کړه، نسخه ډېره زړه وه، په تکلیف مې وویلای سوه، ډېر ځایونه ئې وینه وو خوړلي یا اوبو وهلي ول. د منقول عنه نسخې دغه ډول کیفیت بیانول له نسخه ویونکو سره دا مرسته کوي که په متن کې کوم ایراد یا نیوکه پیدا سي ممکن د منقول عنه نسخې وبلل سي او دوهم کاتب له ایراد څخه وژغورل سي.

پورتنۍ اته برخې د یوې بشپړې ترقیمې له پاره مهمې دي، باید یادونه وکړم چې زموږ د خطي آثارو ډېرې ترقیمې له دغو برخو څخه ځینې لري او ځینې نه، دغه حالت نو دا معنی نه لري چې نوموړې ترقیمې ناسمې دي او یا د یوې نسخې د پېژندنې له بهیر سره همکاري نه دي. د یوه خطي اثر هر ډول ترقیمه د هماغه اثر په پېژندنه کې مرستندوی حیثیت لري او د نسخه پېژندونکو او مطالعه کوونکو سره مرسته کوي. خو کوم اثر چې د ترقیمه کښنې پورتنۍ ټولې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

برخي په خپل ځان کي ولري نو ويلای سو چي دغسي ترقيمه له هره اړخه بشپړه او نسخه پېژندونکي او فهرست جوړوونکي له ډېرو سرګردانيو څخه ژغوري.

تر پورته توضيحي خبرو وروسته به د ترقيمي په باب ځيني عمومي بيانونه وليکم:

موږ په خطي آثارو کي داسي کتابونه هم لرو چي څو توکه وي، د دغو څو توکيزو کتابونو د هر توک په پای کي کاتب لنډه ترقيمه ليکي، خو بشپړه او له هري خوا مکمله ترقيمه د ياد کتاب په آخر توک کي ليکي.

د ترقيمو پورته ډول منثور وو، موږ ځيني داسي آثار لرو چي ترقيمي ئې په نظم ليکل سوي وي. هغه کاتبان او نسخه ليکونکي چي شعري طبع ولري هغوی په ځينو نسخو کي خپله ترقيمه په منظوم ډول ثبتوي، يا د ترقيمي يوه برخه په نظم ليکي. څو ورځي مخکي ما د مرحوم سيد محسن کندهاري (مزارات) نومي رساله له دوو قلمي نسخو څخه برابره او چاپ کړه. د دغي رسالي دوهمه نسخه اروابناد عبدالاحد اخندزاده غريبک استنساخ کړې وه. دا چي مرحوم غريبک اخندزاده يو عالم، هنرمند او شاعر شخص وو، د خپلي استنساخ سوي نسخي په آخر کي ئې منظومه ترقيمه اضافه کړې ده، ځيني بيتونه ئې دا دي:

د ذی القعد يوويشتم سو
او سنه ديارلس سوونه
مخصص په غريبک يم
جواهر د ايمان غواړم
دا کتاب په خير تم سو
يوشپيته بالا کلونه
غريبک د غمه ډک يم
د ابليسه څخه ژاړم

ځيني خطي آثار ترقيمه نه لري د ترقيمي پر ځای يو يادښت ورسره مل وي، دا يادښت ممکن د کتاب پر لومړی صفحه د کوم بل چا له خوا ليکل سوی وي، دغه ډول يادښتونه زموږ سره د يوې خطي نسخي په پېژندلو کي مرسته کوي. په دې شرط چي د دغه ډول يادښتونو ليکوال د خطي آثارو پېژندونکی وي، د بېلابېلو کاتبانو ليکلي نسخي ئې تر نظر تېري سوي وي او د هغوی له خطونو سره پوره بلديت ولري. کله کله داسي هم پېښېږي چي يوه نسخه د يادښت کښونکي موروثي مال او د هغوی په خاندان پوري تړلی ملکيت وي.

د ترقيمي ليکلو ژبه معلومه نه وي، د اکثر پښتو خطي آثارو ترقيمي په عربي يا پارسي ليکل سوي دي، يا هم داسي سوي وي چي د ترقيمي يوه برخه ئې عربي وي بله پارسي، خو داسي نسخي هم لرو چي ترقيمه ئې په پښتو ژبه ليکل سوې وي. د ترقيمي دغه ډول ليکنه په پارسي او اردو آثارو کي هم مروج ده. د ډېرو پارسي کتابونو ترقيمي په عربي ليکل سوي وي يا برعکس. د دکتور عارف نوشاهي په قول د اردو اکثرو آثارو ترقيمي په پارسي ليکل سوي دي. په نورو ژبو د ترقيمو ليکل زما په خيال د هماغه وخت له رواجي اثراتو څخه بې اغېزې نه دي يا هم په يادو سيمو کي د يادو ژبو فرهنګي غلبه او تاثير ځني معلومېږي.

**د ترقيمه کښلو ګټي:**

دکتور عارف نوشاهي د ترقيمو د ګټو او فايدو په باب په زړه پوري بحث کړی دئ، زه به د ده د بحث عمده برخي دلته وژباړم: «کله کله له داسي نسخو سره مخامخ کېږو چي د سر پاڼي ئې لوېدلي او ضايع سوي وي، دا چي د يوې نسخي نوم او د هغې د ليکوال او شاعر نوم د نسخي په سر کي راځي نو فهرست ليکوال او له دغسي نسخي سره سروکار لرونکی کس له سرګردانی سره مخامخ کېږي، که چيري د دغي خطي نسخي پای بشپړ وي او کاتب په ترقيمه کي يوازی خپل نوم ذکر کړی وي، دغه يادونه ممکن د کتاب په پېژندنه کي بې ګټي نه وي. کله کله داسي هم پېښېږي چي يو کاتب د منقول عنه نسخي ترقيمه نقلوي خو خپله ترقيمه نه پر اضافه کوي. دغه حالت ممکن فهرست ليکوال او تاريخ ليکوال له ستونزو سره مخ کړي، ځکه هغوی د نسخي نورو قرائنو ته متوجه کېږي چي نسخه د دوولسمي پېړی معلومېږي، خو په ترقيمه کي راغلی تاريخ په اوومه پېړی اړه لري او دا دواړي نېټي سر نه سره خوري. په دغسي حالاتو کي موږ ته معلومېږي چي په ترقيمه کي راغلی تاريخ د منقول عنه نسخي دئ او د دوهمي نسخي کاتب خپل تاريخ نه دئ ثبت کړی.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په خير و لولئ

د ترقيمو کښل موږ ته د يوه کاتب د بېلابېلو نسخو پته راکوي، او موږ ته دا راښيي چي کوم کاتب د کومو کومو کتابونو نسخې استنساخ کړي دي.» (نوشاهی، ۱۳۸۷، ۸۵)

د ترقيمو اصلي منبع خپله خطي نسخې دي، په دوهم قدم کي د خطي نسخو فهرستونه موږ ته د بېلابېلو اثارو ترقيمې په لاس راکوي. په نړۍ کي د عربي او پارسي آثارو د ترقيمو فهرستونه هم خپاره سوي دي، خو دغه فهرستونه ډېره اختصاصي بڼه لري او د مشخصو کسانو د استفادې له پاره تهيه سوي دي يا هم د يوې کتابخاني د خطي ځانګي مسئولينو د هماغي ځانګي د ليدونکو او کتونکو د آسانتيا له پاره په ابتدايي شکل خپاره کړي وي.

د خطي آثارو ترقيمې په ډېر دقت کتل بويه، د ترقيمې په ليکلو کي هم له جعل څخه کار اخيستل کېږي، هغه په دې معني چي يو اثر ډېر زوړ نه وي خو يو ماهر کاتب د اثر خط او د کاغذ او سياهی نوعيت ته په مشابه ډول هماغسي ترقيمه او زړه نېټه پر ليکي، له دې کار څخه مراد دا دئ چي د دغه اثر مادي اړخ ته ګټه ورسيږي.

**ماخذونه:**

مايل هروي، نجيب، (۱۳۶۹ل)، تاريخ نسخه پردازی و تصحيح انتقادی نسخه های خطی، بنياد پژوهشهای اسلامی آستان قدس: مشهد.

نوشاهي، عارف، (۱۳۸۷ل)، ترقيمه نويسی نسخه های خطی، (مجله کتاب ماه)، تهران.

هوتک، محمد، (۱۳۳۹ل)، پټه خزانه، د معارف وزارت: تهران.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de

يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ